# OPREATING SYSTEM

Paktia University



Ketabton.com

**Shafiullah Samoon**

**Mobile Num:0771003070**

**Gmail:Shafikhan5692@gmail.com**

OCTOBER 29, 2023

PAKTIA UNIVRSITY

Logar Afghanistan

(c) ketabton.com: The Digital Library


| صفحه | عـــــــــــــــــــنــــــوان |
|---|---|
| 3-4 | Software and Types |
| 4 | System Software |
| 4 | Opreating System |
| 4 | Need For O/S |
| 4 | History of O/S |
| 4-5 | First second third and fourth Generation of O/S |
| 4-5 | Function Of O/S |
| 5-6 | Components Of O/S |
| 5-7-8 | Types Of O/S |
| 8-10 | Types of Structure |
| 10-11 | Services Of O/S |
| 11 | Program Execution |
| 11 | I/O Operation |
| 11-12 | File manipulation and management |
| 12 | Commination |
| 12 | Error handling |
| 12 | Resource Management |
| 12 | Security and Security |
| 13 | Networking |
| 13 | User Interface |
| 13 | What is process and O/S |
| 13 | Difference between process and program |
| 13 | Attribute or characteristics of process |
| 13 | Process id |
| 13 | Process state |
| 13 | Process counter |
| 13 | Priority |
| 13 | General purpose register |
| 13-14 | List of open files |
| 14 | Account information |
| 14 | Cpu scheduling information |
| 14 | Process control block, process life cycle states of process |
| 15 | Process scheduling, categories of scheduling, process scheduling |
| 15-16 | Types of scheduling, what is scheduling algorithm, purpose of scheduling |
| 16-17 | Scheduling strategy, types of cpu scheduling, FCFS, SJF, LGF |
| 17-18 | Priority scheduling, shortest remaining time first, round robin scheduling Algorithm |
| 18-19 | Multi-level scheduling algorithm, context switch, threads in O/S |
| 19-20 | Why do we need threads in O/S, threads VS process, components of thread |
| 21-22 | Types of threads, advantages of threads, parallelism |
| 22-23 | Concurrency, process in synchronization, types of synchronization |
| 21-22 | Conversance, synchronization پروسی دولونه |
| 22-23 | Race condition, critical solution, critical solution problem |
| 23-24 | Types of solution, software-based solution, hardware-based solution |
| 24-25 | Semaphore, dead lock, dead lock condition, |
| 26 | handling dead lock, Dead lock handling strategies, memory management |


Shaikhan

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| **26-27** | **Memory management technique, memory management tech** |
| **27** | **Contiguous, non-contiguous, paging** |
| **28** | **Segmentation, paging, fragmentation** |
| **28-29** | **له منځه وری شو internal fragmentation څنګه** |
| **29** | **Virtual memory** |
| **30** | **Demand paging, page replacement algorithm** |
| **30** | **FIFO, OPR, LRU, MRU, trashing** |
| **30** | **I/O management, device driver, device control** |
| **31** | **Synchronous VS asynchronous, Memory-mapped I/O , communication I/O devices** |
| **32** | **DMA, polling VS interrupts, storage management** |
| **32-33** | **Storage management key attributes, disk management** |
| **33** | **Goals of disk managements, task of disk management** |
| **33** | **Disk scheduling, disk scheduling algorithm** |
| **33-34** | **FCFS, SSTF, Secom, file system** |
| **34** | **Advantages and dis advantages of file system** |
| **34-35** | **Various file system, FAT, NTFS, EXT, HFS, APFS** |
| **35** | **Append, truncate** |
| **35** | **Sequential access, direct random access** |
| **35** | **Indexed sequential access** |
| **35** | **What is CIA triad, Confidentiality, Integrity, Availability** |
| 36 | **Threats, Physical Threats,** |
| 36 | **Non-physical threats** |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سافتویر څه شي ده؟

د هدایاتو او لاربښوونو مجموعه چې د انساناو له خوا دندی هدایات ورکړل شوی ترڅو د user لپاره خاص وظیفي اجرا کړی.یا په بل عبارت کمپیوټر او د کمپیوټر اړوند تولو ډیوایسونو ته لاربښونه کوی.سافتویر د باینری ژبه په اساس جوړ شوی لومړنیو پروګرامرانو د سافتویر جوړولو له پاره له باینری یا ماشین (language) څخه کار اخیسته خو اوس پروګرامران ادا کوشش کوی چې په high level ژبه کی پروګرام جوړ کړی. د هدایاتو او لاربښونو مجموعه چې یوزر ته ددي اجازه ورکوی تر څو یوځانګړی دنده تر سره کړی سافتویر د کمپیوټر تولو ډیوایسونو ته لارښونه کوي. د هدیاتو او لاربښوونو مجموعه ده چې کمپیوټرته وایي چې تر څو څه تر څه تر سره کړي بیغیر له سافتوپر څخه کمپیوټر د استعال وړ ندی

### Classification of Software

دلته د مقصد (purpose) له مخی سافتویر په دری ډوله دی.

**Purpose**

Utility Software | Application Software | System Software

**System Software:** هغه ســافتویر ده چې د سیستم د چلولو دنده په غاړه لري .

**Application Software :** هغه سافتـوېر ده چې د یوه خاص کار د ترسره کولو لپاره رامنځ ته کیږی.

**Utility Software :** هغه سافتــــوېر ته وایی چې د سیستم او اپلکشن سافتـــوېر سره مرسته کوي.

**Platform**

Cross-Platform Software | Native Software

**Native Software:** هغه سافتویر ته وایی چې د یو خاص اپریټنګ سیستم لپاره ډیزاین شوی وی او په همغه اپریټنګ سیستم باندي کار کوی .

**Cross Platform:** هغه ســـــــافتویر ده چې په هر اپریټنګ سیستم باندی کار کوي.

**Deployment**

Cloud-based Software | Installed Software

**Installed Software:** هغه سافتـــویر ته وایی چې په اپریټنګ باندي انستال کیـــــــږی. لکه اکسیل او داسی نور...... .

**Cloud -based Software:** هغه سافتـــــــــوېر ته وایی چې د انترنـــیټ په مرسته ورته لاس رســـي پیدا کیږي.لکه پابجی ګیم.

**License**

Open- source | Proprietary Software

**Proprietary Software :** هغه سافـــــــــتوېر ته وایي چې یو کمپني یې جوړوی او بازار ته یـــې وړاندې کوی او هر څوک یې د پیسو په مقابل کي اخیستلی شئ

Shafikhan

(c) ketabton.com: The Digital Library

Open-Source: هغه ســــافټوېر ته وایي چې پرته له پیسو څخه یې اخیستلي شو لکه : لینکس .

**Size**

**Small scale software** | **Enterprise Software**

**Small scale software:** هغه چې د یو شخص یا یو کوچینی ګروپ لپاره جوړ شوی وی.

**Enterprise software:** هغه سافټویر چې د یوی لویې اداری لپاره ډیزاین شوی وی.

د user interface له مخی سافټویر په دوه ډوله دی.

1 - GUI software: graphical user interface مثال یې لکه ډینډوز

2 - CLI software: command line interface

د (based) او (copy right) له مخی سافټویر په څلور ډوله ده.

1 - Commercial software
2 - Shareware software
3 - Freeware software
4 - Public domain software

## System software

دا هغه سافټویر دی چې په مستقیم ډول د کمپیوټر د هاډوېر سره کار لری او هاډوېر منیج کوی. نور سافټویرونو ته د انسټال کېدو زمینه برابروی،او په کمپیوټر کې ورته د استفاده کولو زمینه ورته برابروی. او د کمپیوټر او یوزر تر منځ ارتباط برابروی.د کمپیوټر داخلی دندی او د هارډویر برخی لکه مانیټور پرینټر اوداسی نوری برخی کنټرولوی.

### Various types of system software

په دری ډوله دی: 3- language processor 2- device driver 1- operating system

## Operating System:

کمپیوټر User ته په فعالیت راولی. یا هم د کمپیوټر او User تر منځ د ارتباط پول رامنځ ته کوی.یا هم د کمپیوټر او یوذر تر منځ د انترفیس خاصیت لری.

## Need for Operating System

O/sد نورو سافټوېرونو لپاره د یو platform په شکل دنده ترسره کوی. او دغه د نور پروګرامونه یا سافټویرونو لپاره زمینه مساعده کوی.تر څو په کمپیوټر کې اسټال او د استفادی وړ وګرځي. د مختلفو تخنیکونو څخه په اسانۍ سره امنیت (security) رامنځته کول. بغیر له OS څخه کمپیوټر د استعمال وړ نه ده.

## History of Operating System

Operating systemڅلور نسلونه لری.

### First Generation

دغه جنیریشن له ۱۹۴۵-۱۹۵۵ کال پوری رامنځ لومړی ځل لپاره میخانیکي کمپیوټرونه رامنځته شول.په دغه جنیریشن کي O/s سیستم نه وو په دغه کې له Plag Board څخه استفاده کیدله. له ۱۹۴۵- ۱۹۵۵ کال پوری په کمپیوټر کی کوم OS نه وو په



Shaikhan

(c) ketabton.com: The Digital Library

مستقیم ډول کمپیوټر ته هدایات کیدل. کله چې په ۱۹۴۰ کال کې میخانیکي کمپیوټر رامنځته شوی وو په هغه کې هم OS نه وو په Machine language کې به ورته code کیدو مثال يې plug board ده.

## Second Generation Operating System

دغه په ۱۹۵۵-۱۹۶۵ کال کې رامنځ ته شو پدغه o/s کې یو O/s رامنځ ته شوچې ددغه O/S نوم GMOS(General Motor operating system) او دغه لومړني O/s وو چې رامنځ ته شو. پدغه o/s باندې په ۱۹۵۰ کال کې کار پیل شوی وو. دغه O/s د IBM کمپیوټرونو لپاره رامنځ ته شوی وو او دغه o/s د RAP په نوم کمپني لخوا رامنځ ته شوی وو او په دغه جنریشن کې یو بل o/s هم رامنځ ته شوی دی چې نوم یې UNIX وو او په ۱۹۶۰ کال کې رامنځ ته شو.دا OS د (North American Aviation) له خوا معرفی شو. مثال یې batch OS ده.

## Third Generation Operating System

دغه Generation O/S له ۱۹۸۰-۱۹۶۵ کال پورې رامنځ ته شو او په دغه Generation کې د Multi Programing کانسیپټ رامنځ ته شو چې په یو کمپیوټر کې زیاتی دندی ترسره کړو. او هم Multi O/S رامنّځ ته شو،یعني پدغه کې CPU بیکاره نه پاتي کیږی. پدغه کې کله چې یوه وظیفه ترسره نشی بله وظیفه راشی دی ته Multi Programing وایی.DEC-PDP په ۱۹۶۱ کال کې د Maini Computerپدغه جینیریشن کې رامنځ ته شوی دی.

## Fourth Generation Operating System

د شخصی Personal کمپیوټرونو هر کارونکی دغه نسل استعمالولی شی د شخصی کمپیوټرونو کانسیپټ د mini computer سره یو شی دی. مایکرو سافټ ویندوز په ۱۹۷۵ کال کې رامنځته شو. دغه O/s له ۱۹۸۰ څخه پیل او تر ننه پورې دوام لری یا هم تر ننه پورې استفاده کیږی.پدغه Generation O/s کې د Multi-tasking کانسیپټ رامنځ ته شو.چې دغه به په یو وخت کې زیاتو کسانو ته خدمات وړاندی کول.

## کمپیوټر څلور اساسی برخي لرى.

Input Output Processing storage

او O/s د کمپیوټر د برخو مدیرت په غاړه لری. او ټول فایلونه منظم کوی په کمپیوټر کې o/s ډیټا خوندی ساتي تر څو Unauthorized (غیری مسوول) کسان ورته لاس رسی پیدا نکړی.پرته له O/s څخه کمپیوټر د استفادی وړ نه ده.

## Important function of an Operating System

- Memory Management
- Process Management
- Device Management
- File Management
- Security
- Control Over System performance
- Job Accounting
- Error deleting aids
- Coordination between other software and User

## Component of Operating System

## o/sدری اساسی برخی لری.

- Kernel: دا د o/s هسته ده او د کمپیوټر هارډویر اداره کوی او دغه د کمپیوټر هارډویر ته تر ټولو نژدی برخه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوزر، منابعو او هارډویر تر منځ د پل رول لوبوی،او کومي غلطي چي ترسره کیږی د هغه د سمبالښت دنده هم پر غاړه لری.

- :Shell دا د کمپیوټر او یوزر تر منځ د interfaceرول لوبوی، او دغه د یو ژباړن رول لوبوی او Shellیوزر ته ډېر نږدې دی. کومي پروسی چي د o/s پواسطه سرته رسیږی دا د Shell پواسطه یوزر ته وړاندی کیږی دغه، Shell په دوه ډوله دی CLI او دوهم GUI. د کمپیوټر kernel په high level ژبه نه پوهیږی همدا shell دی چي داسی ژبی ته ډیټا ژباړی ترڅو OS کرنل دربانډی پوه شی.
- File System:
File : فایل د ارتباط لرروونکو معلوماتو مجموعه ده اودا فایلونه په HDD یا secondary میموری کی ساتی خامو موادو ته وایی لکه ویډیو،اډیو، انځور، او ډاکومنټ ته فایل ویل کیږی او ددغه ټول چي مدیریت کوی دغه دنده د File Systemده. د File System دنده دغه ده چي په کمپیوټر کي ډیټا په منظم ډول ذخیره کړی. د فولډرز د تنظیم او سمبالښت دنده پر غاړه لری،دنده يي دا ده چي فولډر کي ډیټا په منظم شکل ذخیره کړی او دا په Logical شکل باندی ده.زمونږ Space ضایع نشی او لاس رسی ورته اسانه وی او وخت ضایع نشی.
بعضی مهم File System عبارت دی له :
(FAT (File Allocation Table: دا پخوانی ډول د فایلونو دی چي پخوانیو وینډوزګانو کی استعمالیده.
(Ext (Extended File System: په Linux او Unix کی کارول کیژی.
(NTFS (New Technology File System: منځینی فایل سیستم ډول دی. چي وینډوز کی استعمالیژی.
(HFS (Hierarchical File System: په mac os کارول کیژی.
(APFS (Apple File System: نوی فایل سیستم چي په apple او mac په I/O الو کی کارول کیژی.

## Types of Operating System

Batch Operating System: دغه هغه O/s ده چي په دوهم جنیریشن کی رامنځ ته شو په دغه o/sکي تولی وظیفی په ګروپونو ویشل کیږی او کومي وظیفی چي یو بل ته ورته والی ولری هغه په هماغه ګروپ کي ځای پر ځای کیږی. او کومی دندی چي لومړی راغلی وی هغه به لومړی ترسره کیږی او په یوه وخت کي به یواځي یوه وظیفه تر سره کیږی.په ۱۹۷۰کال کي ډېر مشهور شو ،په دغه o/s کي کمپیوټر مستقیمه اړیکه له یوزر سره نه درلوده.

### Advantage of Batch O/S

- دغه o/s په دی ښه پوهیږی چي یوه دنده به څومره وخت ونیسی.
- ډېرو خلکو ته په یو وخت کي خدمات وړاندی کوی.
- ډېر وزګار نه پاتي کیږی.
- په دغه ډېر غټ کار Mange کولی شو.

### Disadvantage of Batch O/S

- لومړی باید یوزر د Batch O/S په اړه سم معلومات ولری کله چي تیروتنه رامنځ ته شی دغه تیروتنه پیدا کول ډېر ګران کار دی.
- دغه O/S قیمت وی.
- کله چي په دغه O/S کي لومړی دنده ناکامه شی نو هغه وخت پوری نه پریږی کله چي يي بشپړه کړی نه وی.

## Multi programing o/s

دغه ډېرو وظیفو ته اجازه ورکوی تر څو په Main memory کي واوسیږی. پدغه کي کله چي یو دنده تر سره نشی بل دنده باندی کار کوی او بله دنده تر سره کوی، او دغه ډېر کار په کم وخت کي ترسره کوی.

### Advantage of Multi programing O/S

- په دغه کي لوړه او موثره CPU کارول کیږی.
- CPU ځیني پرګرامونه ته خپل وخت ټاکي او کار وربانډي ترسره کوی.



Shaikh

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Multi programing O/S disadvantage of

- په دی کي CPU ته مهالویش ته ضرورت لری.
- په main memory کي ډېری دندی نه مدیرت کوی.

## Multi-Processing Operating System

ډېر کارونه په یو وخت کي ترسره کوی ډېر کارونه په کم وخت کي ترسره کوی په دغه کي میموری مشترکه ده. او په دغه کي د CPU شمیر زیات دی.

## Advantage of Multi-Process Operating System

- اعتبار یي زیات ده
- د ډېر وخت د ضایع کېدو مخنتوی کوی
- تاوان یي دا ده : پیچلی دی ځکه دا په ورته وخت کي ډېری CPU کاروی.

## Multi-tasking Operating system

دغه O/S ډېر کارونه په یو وخت کي ترسره کوی ډېری وظیفی په عیني وخت کي تر سره کوی او په دغه کي مونږه په یوه CPU او میموری باندی زیات کارونه کولی شو




## Advantage of Multi-Tasking Operating System

- په ورته وخت کي د ډېرو کارونو ملاتړ کوی زیات کارونه په یو وخت کي کوی.
- Memory management ښه تر سره کوی.
- تاوان یي دا ده: ډېر پروسیسرونه په یو وخت کي بوخت وی تر څو کارونه بشپړ کړی نو CPU ډېره تودوخه تولیدوی.

## Network Operating system

کله چي موږ له یوه کمپیوټر څخه بل کمپیوټر ته معلومات شیر کوو د هغه معلوماتو اداره کول او د هغه mange کول د معلوماتو امنیت دنده هم په غاړه لری د File system دنده هم په غاړه لری کمپیوټر ته څوک لاس رسی ولری او څوک یي ونلری دغه دنده هم پر غاړه لری.په دی زیات کمپیوترونه وصل کیږی او دا ټول د یو سرور څخه کنټرول کیږی او ددوی سکوروټي هم پر غاړه لری

## Advantage and Disadvantage of Network o/s

- مرکزی سرور لری، امنتي ګواښونه یي د سرور له لاری اداره کیږی.
- دغه نوی تکنالوژی ده
- سرور ته لاس رسی د مختلو ځایونو څخه کیږی.
- تاوان یي دا ده : سرور یي ګران ده، ساتنه او تازه کول یي په منظم ډول اړین دی.

## Real time Operating system

دغه o/s د وخت په اساس کار کوی هری دندی ته وخت ورکوی چي دنده تر سره کیږی او هره دنده په خپل وخت تر سره کوی کوم چي ورته ټاکل شوی وی.لکه ترافیکي اشاری.چي د مشخص وخت لپاره عیار شوی ده او په هماغه اساس کار کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Time sharing Operating system

زیاتو User ته خدمات وړاندی کوی خو د وخت په اساس وخت دا توټه کوی د هر شی لپاره وخت ویشی.

## Distributed Operating system

پدغه o/s کې مختلف کمپیوټر سره وصل شوی وی ټولی وظیفی په یو وخت کې تر سره کوی او په ګډه سره یې ترسره کوی په دغه O/S کې میموری بیل وی او پروسیس بیل وی.کمپیوټرونه په خپل منځ کې سره وصل کیږی خو د یوه سرور څخه کنټرول کیږی په هر یو کې مختلف پرګرامونه انسټال کیږی او مختلفی دندی په یو ځای تر سره کوی.




## Structures of OS

### Simple Stature

په دغه ساختمان کې موږ څلور Layer لرو په دغه کې لومړی Layer له څلورم Layer سره یا آخری Layer ته لاس رسی لری.په دغه کې کله چې Application Layer خراب شی نو مکمل سیستم ورسره Crash کیږی.دغه ساختمان د لومړی ځل لپاره په Dos کې رامنځ ته شوی وو،دغه Stature خوندی ندی او دغه تر ټولو ساده سټرکچر ده.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## Monolithic structure

په دغه Layer کې ټولې Function یکې په یوه Layer کې یو ځای کیږی. دغه structure په Unix کې رامنځ ته شو په دغه structure کې Debugging یکې سخت ده. په دغه structure کې Kernel وجود لری.او دغه structure مراقبت سخته ده. ددی ته ځه ور اضافه کول او کمول تری سخت دی. د user space ځخه یوازی call کیږی اوkernel space ورته جواب وایی. اپریټینګ سیستم دوه دوله Space لری: 1- User space 2- kernel space




## Micro-kernel structure

په دغه ساختمان کې مونږ ده Space لرو.لومړی User Mode دوهم Kernel Mode په دغه structure کې غیری ضروری دندی ته User Mode ورکول کیږی.

**Kernel Mode**: په دغه کې System Program پراته وی. د massage Passing پواسطه د Client پرګرامونه او سرور تر منځ ارتباط رامنځ ته کوی ، دغه structure موثره نده دغه structure چې ده time west. تاوان یې دا ده په دغه کې دیر وخت ضایع کیږی کله چې یوه Function ترسره کیږی.




## Layered approach structure

دغه Layer ډیزاین کولو موقیعت سخت ده. دغه Slow structure دی ، په دغه کې Debugging اسانه ده، دغه structure خوندی ده، او time west ده، موثره نده، هر Layer کې چې ستونزه پیدا شی یواځې هماغه debugging کوی. که په یو layer کی ستونزه پیدا شی مستقیم لاسرسی ورته کرلی شو.

User mode: دوه برخې لری: 1- client 2- server

(c) ketabton.com: The Digital Library




Modular approach Structure

دغه سټرکچر د  Layered او د Micro-kernel سره لږ ورته والی لری. هر ماډل پکي  Core kernel ته لاس رسی لری،خوندی او موثره ده د  Object oriented Programming ځخه پکي کار اخیستل کیږی. دغه سټرکچرمهمی دندی راټولوی  په دغه مي سټرکچر کي  Core kernel په منځ کي واقع ده هر برخه یی مستقیم له  Core kernel سره اړیکه لری ددغه امنیت خوندی ده ځمکه هر ماډل یو دانه جدا  Interface لری. دغه سټرکچر  fast ده، تغیرپزیره ده.




## Service and function of OS

- د کمپیوټر او یوزر تر منځ د انټرفیس رول لوبوی.
- o/sد نورو پرګرامونو لپاره د  platformرول لوبوی.
- o/sهمیشه فعال وی چي کله چي کمپیوټر  Onشی نو  o/sهم کار شروع کوی.
- o/sهمغږی کوونکی ده د هاډویر، یوذر او اپلکشن تر منځ.
- o/sکنټرول کوی او اداره کوی او  File system mangeکوی.
- کومي عملي چي په  o/s  کي ترسره کیږی هغه هم کنټرول کوی.
- کله چي دوه پروسی په یو وخت کی د پروسس حالت کی شی د OS  (dead lock) حالت ته ځی.مطلب هیڅ عملیه ته اجرا کوی.

## Services of o/s

**Program Execution**

**Input Output Operations**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**File Management**

**Error Handling**

**Resource Management**

**Communication between Processes**

**Networking**

**System Utilities**

**User Interface**

---

## Program Execution

**دا د OS دنده ده چې یو پروګرام به څنګه Execute کیږی پروګرام مخکی له دینه چې execute شی له HDD نه باید RAM ته لاړ شی او د کومی عملیی په مرسته چې راغلی د OS په مرسته execute کیږی. Os د cpu scheduling algorithm په مرسته ادا مشخصوی چې کومه پروسه باید لومړی execute شی او بیا کوم. مهم الګوریتمونه FCFS, SJF څخه عبارت دی. د پرګرام اجراء کیدل کله چې o/s انسټال شی هغه بیا نورو پرګرامونو ته د اجراء کیدو زمینه برابروی، د o/s دنده دا ده چې نورو پرګرامونو څنګه اجراء کیږی. پرګرام په رم کې اجراء کیږی څکه CPU ته نژدی وی وخت نه ضایع کیږی او پروسه به تیزوی .کله چې دوه پروسی په عینې وخت کې Exaction ته ولاړی شی نو په دا وخت deadlock رامنځ ته کیږی. o/s د یوزر پرګرام اپلکشن پرګرام او یوټیلټې پرګرام دنده پر غاړه لری تر څو چې په ښه ډول اجراء شی .**

**OS د Program execution لپاره لاندی خدمات وړاندی کوی.**

**1 - Load a program into memory**
**2 - Execute the program**
**3 - Handle program execution**
**4 - Provides a mechanism for process synchronization**
**5 - Provides a mechanism for process communication**

## Input and output Operation

- **د I/O عملی د I/O د ډیوایسونو پواسطه ترسره کیږی او دا ډیوایسونه O/S کنټرول کوی**
- **I/Oډیوایسونه په ډرایورنو کنټرول کیږی او دا ډرایورونه په O/Sباندی کنټرول کیږی**
- **o/sد ډیوایسونو او ډرایورنو او یوزر ترمنځ ارتباط ممکن کوی.**
- **کله چې I/O ته لاس رسی ولرو دا د لاس رسی زمینه O/s راته برابروی.**
- **دغه عملیی د ډیوایس ډرایور په مرسته کنټرولیژی او ډیوایس ډرایور بیا د OS په مرسته کنټرولیژی.**
- **I/O operation means read or write operation**
- **O/S provide access to the required I/O devices**

## File manipulation & management

**فایل ته وینډوز کی فولډر او په Linux کی directories وایی. موږ ډیټا په دوه شکلونو ساتو ۱- فایل سیستم او ۲- ډیټابیس فایلونه د فایل سیستم په واسطه او فایل سیستم د o/s پواسطه کنټرولیژی. O/s نورو پروګرامونه ته دا اجازه ورکوی ترڅو یو فایل read یا write کړی. فایل په خپل منځ کې د دقت لرونکې ډیټا مجموعه ده ده ته فایل ویل کیږی،کمپیوټرونه فایلونه په دایمی حافظه کې ذخیره کوی ، په فایل سیستم کې ډیټا په ډایرکټ ډول ذخیره کوی،په فایل سیستم کې د فایل جوړول د فولډر ختم کول، فولډر ته لاس**

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسی پیدا کولو ته فایل سیستم وایي او دغه فایل سیستم o/s کنټرول کوی،د فایل سیستم د عملیو لپاره زمینه o/s برابروی یعني دا چي فایل جوړ کړو او یا یي ډیلیټ کړو.د ډیټا بیکف واخلو دغه بیکف اخیستل د o/s کار دی.

## Communication

د سیستم په مختلفو برخو کي پروسیس ترسره کیږی یا پرګرام د اجراء کیدو په حال کي وی نو ددوی تر منځ ارتباط رامنځ ته کول د o/s کار دی،مختلف سیسمونه د Communication Lines پواسطه وصل شوی دی،او دا د سیستم د پروسو تر منځ همغږی رامنځ ته کوی.کله چي د مختلف پروسو تر منځ ارتباط رامنځ ته کیږی o/s په دی وخت کي لاندی پروسی ترسره کوی تر څو ارتباط په کامیابی تر سره شی،

- ✓ د ډیټا لیږ رالیږ صورت نیسی.هم په عیني سیستم کي او هم په مختلفو سیستمونو کي ارتباط رامنځ ته کیږی.دا د o/s پواسطه ترسرخه کیږی او په مختلفو سیستمونو کي ارتباط د Communication Lines پواسطه او په عیني وخت کي د Massage prosing پواسطه تر سره کیږی.

**Error Handling:** بعضي وخت په بعضی ځای کي واقع کیږی،Error په CPU کي یا I/o الو کي یا هم د میموری هاډویر کي را پیښیږی.

- او یو Error په یوی اله کي کیدای شی ډیر بد عمل وکړی په هماغه Device کي .
- دا Error په هاډویر او سافټویر کي چي راځی کله چي د الو ناکامه کیدل میموری Error په صفر تقسمیدل .
- ددی لپاره چي د error څخه مخنیوی وکړو نو باید د سیستم د افریشن مانیتور د یو سیستم د error د پیدا کولو لپاره او د یوه وړوکی تماس لروونکی اپلیکشن څخه استفاده وشی .

لاندی مهمی دندی چي o/s یی په error handling کي ترسره کوی.

- O/S باید متواتر شکل پټ یا پنهانی errorسکن (scan) کړی.
- O/S یو ښه عمل صورت نیسی او ګرنټی یا ضمانت ورکوی د دقیق او د اعتماد وړ محاسبه کوی.

## Resource management

- ❖ سیستم منابعی د مختلفو منابعو تر منځ شیر وی څو o/s resource sharing منیج کوی .
- ❖ او دا همچنان د cpu وخت منیج کوی ړ پروسو تر منځ د cpu scheduling algorithm په استفادی سره .
- ❖ دا په یو سیستم کی د میموری منیجمنټ سره کمک کوی او د i/o devices کنټرول کوی .
- ❖ د multi-tasking او multi user په محیط کی منابع لکه : cpu cycle and , main memory file storage مشخص شوی ده د هر یوزر او وظیفه لپاره .

لاندی غټ فعالیتونه د یو o/s ده چي په resource management کي ترسره کړی .

- O/S د Scheduler resources په استفاده هر قسم فعالیتونه منیج کوی.
- Cpu scheduling algorithm د ښه استفادی لپاره استعمالوی.

## Security and security

په o/s کی protection (دفاع، ساتنه ) یو میکانیزم ده چي د پروسس ، پروګرام یا یوزر د څو منابعو د کمپیوتر په سیستم کی چي کنټرول کړی او اکسس کړی . o/s مطمین کوی چي ټولی منابعی د کمپیوتر کنټرول او اکسس کړی.
او دا مطمین ده چي ټول خارجي منابعی په د غلطی لاسرسی نه په خوندی وی .دا مونږ ته دا اعتبار جوړوی یا تهیه کوی د user name او password په استفادی سره. Protection یو میکانیزم ده یا هم یوه لاره ده چي مونږ ددی په واسطه کنټرول کوو د یو پروګرام لاسرسی،پروسس او یا هم د یوزر لاسرسی منابعو ته چي د کمپیوتر سیسیتم په واسطه تشریح شوی.

لاندی ډیر فعالیتونه چي د o/s په واسطه په protection کي ترسره کیږی .

o/s مطمین کوی چي ټولی د سیستم منابع ته لاسرسی کنټرول دی.
o/s مطمین ده چي ټولی خارجي i/oالی خوندی دی له بی اعتباره لاسرسی څخه.
o/s تهیه کوی معتبره یا صحیح اینده د هر یوزر لپاره د پاسورډ په معنی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Networking

دا خدمات رابئطه جوړوی په نیتورک کی د دیوایسونو ترمنځ لکه : د انټرنیټ وصل کول ، لیږل او را لیږل د data پاکټونو او نیتورک ارتباطاتو منیج کول .د o/s مثالونه چې په نیتورک کی تهیه شوی .

- د ویندوز سرور استفاده
- Linux سرور
- IOS چې د CISCO الو لخوا استفاده کیږی لکه ... switch, router and etc.

## User interface

User interfaceډیر مهم ده او ټول o/s دغه تهیه کړی.
یوزر کولای شی چې دواړه انټرفیس استفاده کړی په o/s کی CLI AND GUI

## What is process in Operating System

کله چې پرګرام د Execution په حالت کې شی په دغه وخت کې ورته process ویلی شو، پرګرام ته پروسیس نشو ویلای او پروسیس ته هم پرګرام نشو ویلی، کله چې پرګرام خلاص کړو او د اجراء کیدو حالت ته شی بیا ورته پروسیس ویلی شو.

Processیوه active Entity ده او program یو passive Entity ده processپه RAM کې وی او پرګرام په Hard diskکې وی.

## Difference between process and program

| Program | Process |
|---|---|
| پرګرام پروسیس نه دی | پروسیس پرګرام نه دی |
| دغه passive Entity ده | دغه process چې Active Entity ده |
| دا په Hard disk کې وی | دغه process په RAM کې دی |
| دا یوازی Secondary memory یا Hard disk ته ضرورت لری | دغه Memory ته CPU ته او I/O ته ضرورت لری. |
| یو پرګرام څو پروسیس لری | پروسیس د پرګرام د اجراء کیدو یوه بیلګه ده |
| | پروسیس په یو پرګرام پوری تړاو لری |

مثال : کله چې په یوه ژبه کې یو پرګرام ولیکو بیا هغه Run کړو دغه Run کولو ته Process and program ویل کیږی.پرګرام لومړی په hard disk کې وی کله چې موږ پری کلیک وکړه بیا Ram ته راځی.

## Attributes or Characteristics of a Process

دغه خاصیونه چې پواسطه یو پروسیس یو له بل څخه بیل کولی شی،

Process ID: کله چې یو پروسیس رامنځ ته کیږی دا داسې پروسیس وی چې په دغه نمبر یا ID باندی بله پروسیس شتون نلری،دغه نمیر څکه نمبر څکه ورکول کیږی چې له نورو پرسو څخه بیل شی.

Process state: کله چې یوه پروسه اجراء کیږی دغو لاندی پړاونو څخه نیریږی یعني له Creationڅخه نیولی تر completion پوری یا به پروسیس د Readپه حالت کې وی یا به د Runningپه حالت کې وی او یا به د Waiting په حالت کې وی.

Program counter: تر ټولو تیز ترینه میموری چې ده هغه راجسټر ده چې په CPUکې موقیعت لری دغف ه د تیری پروسی ادرس ساتي کله چې نوی پروسیس نر سره شی تو بیا زاړه پروسیس داخل وی.

Priority: کله چې یو پروسیس تر سره کیږی نو هری پروسی ته یو Priority Num ورکول کیږی دی کومي پروسی چې Priority په Highکې وی نو هغه به لومړی ترسره کیږی.

General Purpose Register: کله چې یو پروسیس ترسره کیږی نو دغه پروسیس اړوند ټول معلوماتو ته ضرورت ده هغه معلومات په Register Memoryکې ساتل کیږی د ټولو پروسیس په اړه معلومات ساتي په Runningحالت کې یې.

List of open files: کله چې یوه پروسه اجراء کیږی یو لړ فایلونه ته ضرورت دی چې د پروسیس سره مرسته کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يا هم كله چي پروسه ترسره کیږی نو فایلونو ته ضرورت لری.

مثال: كله چي يو ځوک پرګرام انسټال کوو زيات فابلونه ورسره وی چي دا فایلونه پرګرام سره مرسته کوی د اجراء کیدو په وخت کی

**List of open devices:** پروسیس د اجراء کیدو په وخت کي مختلف **Device** ته ضرورت لری لکه: **i/o device, keyboard,** او داسي نور **mouse**.

**Accounts Information:** هری پروسی ته محدود وخت ورکول کیږی او د **CPU** اندازه یې په نظر کي نیول کیږی چي څومره **Space** استعال کیږی. کله چي يو پروسیس تر سره کیږی په اړه معلومات ساتل کیږی.

**CPU Scheduling information:** یعني په دی کي زياتي پروسی راځی باید کومه لومړی ترسره شی یو تقسیم اوقات ورته جوړوی چي څه وخت باید کومه پروسه ترسره کری.

## Process Control Block (PCB)

هغه ځای چي د یوی پروسی ټول معلومات پکي پراته وی دی ته **Process Control Block** ویل کیږی.

| |
|---|
| **Process ID** |
| **State** |
| **Pointer** |
| **Priority** |
| **Program Counter** |
| **CPU Register** |
| **I/O information** |
| **Account information** |

## Process Life Cycle states of a process

کله چي پروسه پیل کیږی له پیل کیدو څخه تر پایه پوری کومو حالتونو چي تیریږی دی مکمل واټن ته **Life Cycle** وایی.

یا هم کله چي د لومړی ځل لپاره یو پروسیس رامنځته شی دغه حالت ته




Process life cycle or states of a process

**Start:** کله چي لومړی ځل لپاره یو پروسیس جوړه یا شروع شی هغه ته وایی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Ready:** کله چې یوه پروسه ریم ته لاړه شی او د اجراء کولو لپاره اماده شی دغه ته Ready وایی.

**Running:**

**Waiting** کله چې یو پرسیس تکمیل نشی او په حالت د انتظار کې پاتې شی یعني I/O ته ضرورت وی یا د یوی پروسی ځای بله پروسه ونسي پروسیس بیرته Ready حالت ته ځی او بیا Running حالت ته ځی.

**Terminated** کله چې یو بروسیس په بشپړ ډول سره تکمیل شی هغه ته Terminated وایی

## Process scheduling

اد د Multi Programming لپاره ډېره مهمه ده او اد o/s ته ددی اجازه ورکوی تر څو پوری ډېری پروسی په یو وخت کې په میموری کې اوسی، کله چې د یوی پروسی په ختمیدو سره بله پروسه انتخاب کوی دی ته Process scheduling وایی. کله چې یوه پروسه Remove کړی او پر ځای یې بله انتخاب کړی.

## Categories of Scheduling

مویږ دوه ډوله Scheduling لرو

**Non- preemptive:** کله چې یوه پروسه ورکول شی چې هغه خلاصه (تکمیل) شوی نه وی بیا بله نه اجراء کوی

کله چې د یوه پروسی لپاره یو منبع په لاس ورکول شی تر هغه یې نه پریږدی تر هغه یې نه پریږدی چې اد پروسه یې خلاصه کړی نه وی.

**Preemptive:** کله چې یوه پروسه ورکول شی هغه چې مستقیم منابعو ته ضرورت ولری تو هغه پریږدی بیا بله پروسه باندی کار کوی، یا په دغه کې هری پروسی ته وخت ورکول کیږی یعني هری پروسی ته خپله وخت ویشی.

**Program :** دلاربښونو مجموعی ته پرګرام وایي مثال: Home، insert

**Software:** د پرګرامونو مجموعی ته سافټویر ویل کیږی. مثال : Word، power point ،

## Process Scheduling

**Process manger:** دغه هغه پروس لری کوی کوم چې په حالت د Process کې وی او پر ځای یې بل پروسیس مځکې کوی کیدای شی چې هغه پروسیس High priority ولری د پروسیس انتخاب کولو دنده هم پر غاړه لری.

اد د کارونه لپاره یو table جوړوی چې تر څو ټول کارونه په خپله وخت کې تر سره کړی د یوی پروسی په نه اجراء کېدو په صورت کې بله پروسی باندی کار کوی او وظیفی ته وخت ویشی چې کومه وظیفه په کوم وخت کې تر سره شی.

دغه د Multi-programing له مهمو Function څخه ده دغه o/s ته اجازه ورکوی چې په یوه وخت کې ډېری وظیفی په میموری کې ووسیږی.هری وظیفی ته خپل وخت ورکوی او دغه پروسه لومړی وظیفه قطعه کوی او پر ځای یې بله پروسیس شروع کوی.

## Types of Scheduler

**1: Long time Scheduler:** دغه ته مویږ Job Scheduler هم ویلی شو، دنده یې اد ده د Secondary memory څخه دندی راوړی primary memory ته هلته یې په ready queue کې اچوی.

**Short term scheduler :** دغه ته CPU scheduler هم وایي چې دندی یې ready queue نه انتخاب کړی د ترسره کیدو حالت لپاره اد پریکړه د مختلفو الګوریتمونو په اساس کوی.

**3: Medium term scheduler:** اد دنده داده چې swapping(تبدیل) تر سره کړی. یا هم اد دی یوه وظیفه یا پروسیس پر ځای بل انتخاب کوی یعني کله چې یو پروسیس i/s ته ضرورت ولری اجراء نشی د هغه پر ځای بله وظیفه داخله کړی او په CPU کې د پخواني پروسی یو ادرس ساتي چې څومره کار مخکې پری شوی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library




## What is scheduling Algorithm?

algorithm:د یو کار دی ترسره کولو لپاره یو تګلاره دی چی کوم وخت کی باید وشی یا هم چی دندو ترسره کولو یا د یوه کار ترسره کولو لپاره کومه تګلاره چی کار کوو ورته algorithm وایی .دغه معلوم وی چی کومه پروسه به اجرا کیږی خو په multi programming کی . کومه لومړی اجرا ځومره وخت کی او بیا کومه اجرا شی اد scheduling algorithm کوی .هدف یی چی cpu بیکاره پاتی نه شی او وخت ضایع نه شی . پّه multi programming کی پروسو ته وخت ورکوی په منظم ډول یی ورکوی

او scheduling algorithm اد چی کله زیاتی پروسی په یو وخت کی cpu ته راځی د هغه منظم کول اداره کول چی کومه وظیفه په کوم وخت کی باید ترسره شی او لومړی کومه وظیفه ترسره شی هغه باندی کار کوی یوی پروسی لپاره منظم انتخاب او یو وخت انتخاب کوی کله چی یو پروسس ترسره شی په داده سره بله پروسه ورته رسوی او وخت د تولو پروسو تر منځ ویشی

## Purpose of Scheduling Algorithm

د سیستم منابع «ram ,i\o, cpu خاص» utlise کیږی ترڅو سمه استفاده تری وکړی .

وخت مونږ ته بچت کوی یعنی د وخت ضایع کیدو څخه مخنیوی کوی
cpu اداره او منظم کوی

Through put : د cpu په capability پوری مربوطه دی چی سومره توانایی لری . یا په time کی unit کی چی کوم کار ترسره کیږی ورته وایی .

Turn round time: Cpu پروسی په انتظار کی نه پاتی کیږی د پروسس وخت ته وایی .

Respond time: cpu څخه د بیرته راتلو وخت ته وایی .

## Scheduling strategies

Pre Emotive: د یوی پروسی پر ځای بله پروسه انتخاب کوی. په هغه حالت کې چې یوه پروسه I/o حالت ته ضرورت ولری او یا له high protiz سره راورسیږی یا کله چې یوه پروسه انتخاب کړی که هغه I/O ته ضرورت ولری هغه پریږدی بیا بله انتخاب کوی هغه ترسره کوی اد تغیر منونکی ده .

Non pre Emptive: تر هغه وخت پوری به یو پروسی باندی کار کوی تر څو یی خلاصه کړی نه وی هغه مشخص وخت به ترسره کوی .یا چی ددی په اساس یوه پروسه انتخاب شوه تر هغه وخت یی نه پریږدی چی تر څو یی نه ترسره کړی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## CPU Scheduling Stricture




**Process** : د یو پروګرام د اجرا کیدو حالت ته پروسس ویل کیږی .

**FCFS:** فول شکل یې **first come first serve** لومړی وظیفه چی کوم راځی هغه به اجرا کیږی .

| Process | Arrival time | Burst time |
|---|---|---|
| P1 | 0 | 4 |
| P2 | 1 | 3 |
| P3 | 2 | 1 |
| P4 | 3 | 2 |
| P5 | 4 | 5 |

Priority time

**SJF(shortest job first):** کوم کارونه چی کوچنی وی هغه به ترسره کیږی لومړی او دغه **non preemptive** ستراتیژی ده .

ځانګړتیاوی : د هغه ټیم اوسط یی کم وی ، او د هری دندی سره خپل وخت پکی مشخص وی .

**LGF( Longest Job first ):** دادی SJF مخلفه دی په دغه چی د کومی پروسی **burst time** زیات وی هغه لومړی ترسره کیږی دغه هم **non preemptive** ستراتیژی دی .یعنی هغه پروسه به لومړی اجرا کیږی چی زیات وخت نیسی .

## Priority scheduling

د اولیت پر اساس پروسه اجرا کیږی د کومی چی **high priority** وی لومړی به هغه اجرا کیږی .

هر پروسی ته د اولیت نمبر ورکول کیږی چی له دغه څخه وروسته **short time server** کولای شی چی یو پروسس انتخاب کړی څومره چی د یو پروسی نمبر لوړ وی هغومره به ژر ترسره کیږی بعضی وخت دوه پروسی یو ځای **cpu** ته راشی چی یو رقم **priority** لری نو لومړی به هغه ترسره کیږی چی لومړی راغلی وی .

Burst time Waiting time

(c) ketabton.com: The Digital Library

| Process | Arrival time | Executive time | Priority | Service time |
|---|---|---|---|---|
| P1 | 0 | 5 | 1 | 9 |
| P2 | 1 | 3 | 2 | 6 |
| P3 | 2 | 8 | 1 | 14 |
| P4 | 3 | 6 | 3 | 0 |

Priority algorithm scheduling

| P3 | P1 | P0 | P2 |
|---|---|---|---|

0 6 9 14 22

کوم الګوریتم کی چی یو پروسس زیات وخت باسی یو ښه الګوریتم نه دی ځومره چی کم انتظار باسی هغه ښه الګوریتم دی .

**Shortest reaming time first** : کوم دنده چی کم وخت لپاره تکمیل ته پاتی وی هغه ترسره کیږی او دغه یو **preemptive** الګوریتم دی په دغه که چیری بله وظیفه راغله او کوم وخت یی اړتیا وه هغه باندی کار کوی ځکه چی یو **preemptive** ستراتیژی ده .

**Round robin scheduling algorithm:** دا یو **preemptive** الګوریتم دی (پریښودونکی) هری پروسی ته خاص یا **fix**وخت ورکوی د **cpu**وخت د ټولو پروسو ترمنځ ویشی که چیری هغه وظیفه په خپل وخت کی پوره شی ښو ښه به وی کنی بیا تری راګرځی او دغه **fcfs** ته ورته ده فرق یی داده چی ددی **quantum time**په اساس وظیفه اجرا کوی.

هغه وخت چی یو وظیفی ته ورکول کیږی هغه ته **quantum time** وایی او دغه وخت **100 meli sec , 10 meli sec** پوری وی .

| Process | Execution time or burst time |
|---|---|
| P1 | 24 |
| P2 | 3 |
| P3 | 3 |

| P1 | P2 | P3 | P1 | P1 | P1 | P1 | P1 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|

0 4 7 10 14 18 22 26 30

**Multi-level scheduling algorithm** (سپیډ یی زیات دی ددی الګوریتم ) : څو الګوریتمونه سره یو ځای کوی او په هغه باندی یوه وظیفه ترسره کوی.دغه الګوریتم هغه وظیفی سره یو ځای کوی چی مشترکی ځانګړنی سره ولری لکه : **I/O** ته ضرورت لری یو طرفه یی کوی بیا یی ځینی یی **cpu** وخت ته ضرورت لری هغه بل طرفه کوی دایی دنده ده .هرو **queue** ته یو **priority** ورکول کیږی او د **queue** ګانو په داخل کی له **Round Robin** څخه استفاده کیږی .

**Context switch**(پریښودل ،شروع کول د یوی وظیفی)

کله چی یو پروسس پریښودل شی او بیرته چی له کوم ځای څخه شروع شی هغه د **context switch** دی .

په دغه کی دوه مهم کارونه **Store & restore** د یو وظیفی په اړه ټول معلومات په **PCB** کی ساتی او بیرته یو پروسس له هغه هلقه کی چی پاتی شوی له هغه ځای څخه یی بیرته **restore** کوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library




## Threads in operating system

یو پروسس چې په څو برخو وویشل شی هغی برخی ته یی threads وایې او دغه په logical سره په برخو ویشی او دغه threads له پروسس څخه رامنځته کیږی او دغه threads مونږ light weight process هم ورته وایی یعنی کم وزنه پروسه

په یوه پروسه کی یو execution په path باندی ویشل کیږی .او د threads سره مونږ د cpu سپیډ (speed) زیاتیږی او دی دوی اداره کول هم د O/S سیستم په غاړه دی هر یو threads له یوی پروسی سره اړیکه لری .او څو پروسی له یو threads سره اړیکه نلری او Threads هغه وخت بنه او تیز کار کوی چې cpu ګانی یی زیاتی وی .

دی ته کم وزنه پروسه هم ویلای شو (light weight process)

په یو پروسس کی زیات functionalities رامنځته کیږی او هر function ته threads ویلای شو .

په یوه پروسه کی په ډیر کم توپیر راتلای شی .

کله چې څو threads په یوه وخت کی ترسره کیږی نو بیا process زر ترسره کیږی .

ددوی management هم د اپریتینګ سیستم په غاړه دی .

کله چې پروسسر زیات وی نو multi threads ښه کار کوی .

د مسلسلو وظایفو جریان ته چې په یوه process کی وی ورته threads وایی .

## Why do we need threads in operating system?

